❖❖❖

# د متوازن بهرني سياست په رڼا کې د سيمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت اړيکې

محمد کوثر دولتزی *

**لنډيز**

اسلامي امارت د تېرې دورې په پرتله دا ځل له بيا واکمنېدو راهيسې د متوازن بهرني سياست په برخه کې ملموسې لاسته راوړنې لري. په تېرو څلوېښتو کلونو کې اسلامي امارت يوازېنی حکومت دی چې د سيمې او نړۍ له بېلابېلو هېوادونو سره په تعامل کې يې بې‌پرې سياست غوره کړی دی. د ملي ګټو او متقابل احترام پربنسټ يې د سياسي، اقتصادي او فرهنګي اړيکو دراوزې د ټولو هېوادونو پر مخ خلاصې پرې ايښې دي. په تېر يوه نيم کال کې اسلامي امارت وتوانېد، چې له يو لړ مهمو هېوادونو سره نېغ په نېغه اړيکې ټينګې کړي. که څه هم د اسلامي امارت بهرنۍ پاليسي نه ده تدوين شوې، خو د لوړپوړو چارواکو له بيانونو او رسمي اعلاميو څرګندېږي چې بهرنۍ پاليسي يې په توازن، بې‌طرفۍ او د نورو هېوادونو په کورنيو چارو کې د نه لاسوهنې پر اصل ولاړه ده. په دې څېړنيزه مقاله کې په تشريحي او تحليلي مېتود د متوازن بهرني سياست په رڼا کې د سيمې له هېوادونو سره د اسلامي امارت پر اړيکو بحث شوی.

**کليدي کلمې:** اسلامي امارت، اړيکې، سيمه ييز هېوادونه، لوی قدرتونه، متوازن بهرنی سياست.

---

* د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزارت په لومړي سياسي رياست کې د هند د ډيسک مسؤول دی.

## سریزه

د متوازن بهرني سیاست په برخه د افغانستان اسلامي امارت هڅې له واک ته رسېدو وړاندې پیل شوې وې، په ځانګړې توګه کله چې په دوحه کې له امریکایانو سره خبرې اترې پیل شوې، د مذاکراتو په دوران کې د اسلامي امارت پلاوو بېلابېلو هېوادونو ته دیپلوماتیک سفرونه وکړل تر څو د هغوی وېرې او تشویشونه لرې کړي او هم یې ملاتړ ترلاسه کړي. د دغو سفرونو له جملې څخه د اسلامي امارت لوړپوړو پلاوو تهران، مسکو او نورو هېوادونو ته سفرونه وکړل او تر ډېره له تاوده هرکلي سره مخ شول او هم په رسنیو کې خورا زیات پوښښ ورکړل شو.

د افغانستان اسلامي امارت په متوازن بهرني سیاست کې مهمه لاسته راوړنه دا ده چې هېواد یې له ۲۰ کلونو وروسته له امریکایې اشغال څخه د نظامي مبارزې ترڅنګ د دوحې د مذاکراتو پرمټ نه یوازې ازاد کړ، بلکې د افغانستان د چارو واګې یې هم په لاس کې واخیستې، او په دې اړه خپله امریکایي جنرالان او شنونکي هم په ښکاره وایي، چې طالبانو هم د جګړې په ډګر کې او هم د مذاکراتو پر مېز امریکایانو ته ماتې ورکړه(Tharoor ,2021).

د افغانستان اسلامي امارت بهرنۍ تګلاره د متوازن سیاست پر اصل ولاړه ده. دا اصل نه یوازې د بهرنیو چارو د وزیر مولوي امیر خان متقي لخوا مطرح شوی، بلکې له کله نه چې اسلامي امارت له امریکایانو سره د دوحې مذاکرات پیل کړل نو د اسلامي امارت د مشرانو ټینګار پر متوازن سیاست باندې و، او دا یې په ډاګه ویلي او منلې ده چې افغانستان به د هېچا پر وړاندې تهدید نه وي او نه به هم د نورو هېوادونو په داخلي چارو کې لاسوهنه وکړي او نه هم بل چا ته اجازه ورکوي چې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنې وکړي (Harpviken, 2021).

د هېواد د بشپړې خپلواکۍ له ترلاسه کولو وروسته، اسلامي امارت په بېلابېلو کچو او ابعادو کې د ګڼو هېوادونو له لوړپوړو چارواکو سره د اړیکو نوې پاڼې پرانیستې او د رسمیت پېژندنې، کنګل شوو اسعاري زېرمو د ازادولو، د سوداګرۍ او ټرانزیټ د پراختیا، د سیمه ییزو او نړیوالو همکاریو د پراختیا او د بشردوستانه مرستو په جلبولو کې یې ډېرې هڅې کړې دي. په دې اړه باید وویل شي چې که څه هم د افغانستان اسلامي امارت تدوین شوې بهرنۍ پالیسي نه لري خو هغه څه چې د اسلامي امارت د چارواکو له طرفه په رسنیو کې او یا له بهرنیو دیپلوماتانو سره مطرح شوي دي، له مخې یې د اسلامي امارت بهرنۍ متوازن سیاست روښانه کېږي.

که څه هم اسلامي امارت د سیمې او نړۍ په کچه تر ۳۵ زیاتو هېوادونو سره مستقیمې او یا غیر مستقیمې اړیکې لري، خو دا څېړنیزه مقاله له ګاونډیو او د سیمې له هغو هېوادونو سره د اسلامي امارت اړیکې څېړي چې تر ډېره بریده فعال تعامل او سیاسي اړیکې ورسره لري. مقاله له دغو هېوادونو سره د پخوانیو او اوسنیو اړیکو څرنګوالی راسپړي. همدا راز پر دې بحث کوي چې هغه کوم پرمختګونه دي، چې اسلامي امارت د متوازن بهرني سیاست په رڼا کې د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو په برخه کې تر لاسه کړي دي.

## I. د سیمې او اسلامي نړۍ له هېوادونو سره اړیکې

### الف. له پاکستان سره اړیکې

د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ سره له قطر وروسته پاکستان دویم هېواد دی چې د اسلامي امارت لخوا معرفي شوي دیپلوماتان یې ومنل او اجازه یې ورکړه چې په پاکستان کې په خپلو نمایندګیو کې فعالیت پیل کړي. په اسلام اباد کې سفارت او نورو ښارونو کې قونسلګریو کار پیل کړ (Khan, 2021). د دې ترڅنګ د دواړو هېوادونو لوړپوړو

چارواکو وخت ناوخت د یو بل هېوادونو ته رسمي سفرونه هم کړي دي. د ۲۰۲۱ز کال په اکتوبر میاشت کې افغانستان ته د پاکستان د مخکېني بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي په مشرۍ یوه لوړپوړي پلاوي سفر تر ټولو مهم هغه بلل کیږي. یاد سفر کې شوي بحثونه پر دوه اړخیزې سوداګرۍ، ټرانزیټ او افغانانو ته د ویزو په ورکړه کې د اسانتیاوو په رامنځته کولو څرخېدل (Peshimam, 2021). د همدې کال د نومبر په میاشت کې د افغانستان د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي په مشرۍ یوه لوړپوړي ۲۰ کسیز پلاوي چې د مالیې او د سوداګرۍ او صنعت وزیران هم پکې وو، پاکستان ته سفر وکړ. د پاکستان له لومړي وزیر او یو شمېر وزیرانو سره یې ملاقاتونه وکړل او د سوداګرۍ، اقتصاد، ټرانزیټ او د سیمه‌ییز اتصال په اړه یې بحثونه وکړل (Web Desk, 2021). پر دې سربېره د افغانستان اسلامي امارت د سیمه‌ییز امنیت په برخه کې وکړای شول چې د پاکستان د حکومت او تحریک طالبان پاکستان ترمنځ د سولې مذاکراتو لپاره منځګړیتوب وکړي چې په پایله کې یې دواړه خواوې د یوه محدود اوربند موافقې ته ورسېدې (Aljazeera, 2022). همدارنګه پاکستان هم د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې د اسلامي امارت خلاف هر ډول قرارداد کې له رایې ورکولو څخه ډډه کړې ده (United Nations, 2022).

له بله پلوه، د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان په شمول ځینو ګاونډیو هېوادونو ترمنځ څه نا څه سیاسي، امنیتي او اقتصادي ستونزې او بې باورۍ هم شته دي؛ خو په ټوله کې اسلامي امارت له سیاسي او ډیپلوماتیکو لارو څخه د هر ډول ستونزو هواري ته ژمنتیا ښودلې او تراوسه یې هڅه کړې چې شته بې باورۍ له منځه یوسي.

### ب. له ایران سره اړیکې

د یوه ګاونډي هېواد په توګه، د ایران له اسلامي جمهوریت سره هم د افغانستان اسلامي

امارت خورا مثبتې اړیکې لري. که څه هم د مخکیني حکومت له پرځېدو او د اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو وروسته ایران په دې اړه تشویشونه لرل چې له نوي افغان حکومت سره باید څه ډول تعامل وکړي (Tokhi, 2022). په ورته وخت کې مخکې له دې چې طالبان واک ته ورسېږي ایران دا درک کړې وه، چې د امریکا او ناټو له وتلو وروسته طالبان قدرت ته د رسېدو پوره وړتیا لري او همدا لامل و چې دوی د دوحې د دفتر له لارې له اسلامي امارت سره د اړیکو ټینګولو هڅې وکړې (Cafiero, 2022).

د افغانستان ارزښت د ایران په بهرنۍ پالیسۍ کې هغه وخت پیدا شو چې کله د پخواني شوروي اتحاد ځواکونو پر افغانستان تېری وکړ. له هماغه وخت راهیسې ایران تل هڅه کړې چې خپلې ملي ګټې په دې هېواد کې خوندي وساتي (Kaura, 2020). هغه مهال ایران د طالبانو د واکمنۍ پر خلاف د شمال ټلوالې ملاتړ کاوه او د دواړو هېوادونو اړیکې هغه وخت لا پسې ترینګلې شوې چې د ایران ۹ ډیپلوماتان په مزارشریف کې ووژل شول(Khattak, 2019) حال دا چې اسلامي امارت د ایراني ډیپلوماتانو وژل کېدل د غیر مسؤولو وسله والو کار وباله او هم یې ډاډ ورکړ چې مجرمینو ته به سزا ورکړي (CNN, 1998). له همدې وېرې په تېر اګست (۲۰۲۱ز) کې د طالبانو له بیا راتګ او د هرات ولایت له نیولو سره سم ایران له طالبانو وغوښتل چې د ډیپلوماتانو او ډیپلوماتیکو ودانیو امنیت خوندي کړي (Middle East, 2021). همدارنګه ایران هڅه کړې چې په افغانستان کې دننه او بهر د اسلامي امارت خلاف د هېڅ جهت یا ډلې نه ملاتړ وکړي او نه یې تایید کړي. په دې برخه کې ایران د ځینو مخالفو پخوانیو سیاسیونو نه یوازې نظامي او مالي ملاتړ نه دی کړی بلکې هغوی یې له اسلامي امارت سره د روغې جوړې لپاره هڅولي دي (Fassihi, 2022). ایران او اسلامي امارت په سیمه کې له ځینو مشترکو چلنجونو سره مخ دي او هم مشترکې ګټې لري (Hussain, 2020). د داعش ډلې پر وړاندې مبارزه، د

نشه‌يي توکو د قاچاقو مخنیوی او د تېلو سوداګري هغه څه دي چې اسلامي امارت او ایران له یو بل سره نږدې کوي. په افغانستان کې د تېر نظام په وروستیو کلونو کې د ایران په کوربه توب د جمهوریت او امارت مذاکراتي پلاوو هم د سولې اړوند یوه ناسته کړې وه. همدارنګه ایران له خپلو رسنیو څخه غوښتي وو چې د اسلامي امارت په اړه ناسم تبلیغات ونه کړي(Daragahi, 2021).

له بله پلوه، د دواړو هېوادونو لوړرتبه چارواکو وخت ناوخت د یو بل هېوادونو ته سفرونه هم کړي، چې په دې لړ کې کابل ته د افغانستان لپاره د ایران د ځانګړي استازي سفر د اهمیت وړ بلل کيږي. نوموړي د اسلامي امارت له بېلابېلو مشرانو سره د امنیتي ګواښونو پر وړاندې په همکاریو سربېره پر سوداګریزو اړیکو او نورو مهمو موضوعاتو هم وغږېدل (Almayadeen, 2021). همدا راز د ۲۰۲۲ز کال په لومړیو ورځو کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي په مشرۍ یوه لوړپوړي پلاوي هم ایران ته رسمي سفر وکړ، چې پکې یې د ایران له بهرنیو چارو وزیر او نورو لوړپوړو چارواکو سره ملاقاتونه وکړل او پر سیاسي، اقتصادي، ټرانزیټي او د کډوالو اړوند مسایلو وغږېدل (Radio Free Europe, 2022). د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند یادې ناستې مثبتې وبللې (Motamedi, 2022). د همدې کال په اپرېل میاشت کې ایران د اسلامي امارت لخوا څلور تنه نوي معرفي شوي ديپلوماتان ومنل او د سفارت په ګډون د قونسلګریو چارې یې نوي سرپرست حکومت ته په لاس ورکړې(Motamedi, 2022). دا کار د ایران او اسلامي امارت د اړیکو په برخه کې د تیر امارت په پرتله یو جوت پرمختګ ګڼل کېږي.

په دې منځ کې د دواړو هېوادونو ترمنځ ځینې بې باورۍ هم لیدل شوې دي. د بېلګې په توګه، د ۲۰۲۲ز کال په اګست میاشت کې د افغانستان او ایران پر پوله د دواړو لورو

ترمنځ یوه نښته رامنځته شوه، چې د حل په موخه یې د ایران د بهرنیو چارو وزارت مرستیال وزیر علي رضا بیگدلي کابل ته سفر وکړ او دواړو لورو دا یوه تیروتنه وبلله (The Print, 2022). اوسمهال د افغانستان د اسلامي امارت او د ایران تر منځ یو لړ مشترکې کمیټې هم جوړې شوې، چې په بېلابېلو برخو کې به یوځای کار کوي لکه د اقتصاد، مهاجرینو او د پولې اړوندو مسائلو په هواري کې به رغنده رول لوبوي (Tehran Times, 2022).

ایران دې پایلې ته رسېدلی چې له اسلامي امارت سره له دیپلوماتیک تعامل پرته بله لاره نشته او هڅه یې کړې چې خپلو اړیکو تا لا پراختیا ورکړي ترڅو د سیمې د ثبات او اقتصادي پرمختګ کې ګټور ثابت شي. اسلامي امارت هم ورته دریځ لري او ټینګار کوي چې د سیمې په ګډون له ټولې نړۍ سره د متقابل درناوي پر بنسټ د مثبتو اړیکو په لټه کې دی. همدا راز، د افغانستان او ایران ترمنځ اوسنۍ اړیکې تر بل هر وخت ښې او په مناسب حالت کې دي.

### ج. له ازبکستان سره اړیکې

ازبکستان د افغانستان یو له مهمو ګاونډیو هېوادونو څخه شمېرل کیږي او د تاریخ په اوږدو کې له یو بل سره ژورې مذهبي، کلتوري او اقتصادي اړیکې لري. د ایران په شان ازبکستان هم د اسلامي امارت د لومړۍ دورې پر مهال د شمال ټلوالې مالي او نظامي ملاتړ کاوه. هغه مهال یې دوی لامل دا باله چې هغه ازبک اسلامپالې ډلې چې په ازبکستان کې یې خونړي بریدونه ترسره کول له اسلامي امارت سره لاس لري (Hill, 2001). په دوحه کې د اسلامي امارت او امریکایانو د خبرو پر مهال، ازبکستان د امارت له مذاکراتي پلاوي سره ښې اړیکې لرلې. د اسلامي امارت له بیا ځلي واکمنېدو سره، د ازبکستان په بهرنۍ پالیسۍ کې د افغانستان په برخه کې خورا زیات بدلون راغلی (Gotev,

(2021. ازبکستان اوسمهال خپلې ګټې په دې کې ګوري چې افغانستان د مرکزي آسیا او ختیځې آسیا د اتصال په مرکز بدل شي. ازبکستان ته نه یوازې د افغانستان د ثبات او امنیت ټینګښت مهم دی بلکې د خپل اقتصاد روښانه آینده د افغانستان په اقتصاد او ثبات کې ویني، او هم د سیمې او نړۍ هېوادونه دې ته هڅوي چې د افغانستان له نوي حکومت سره تعامل وکړي (Umarove, 2022). د ازبکستان حکومت له اسلامي امارت څخه غواړي چې ازبک افراطي ډلو ته په افغانستان کې ځای ورنه کړي (Report, 2022). په دې اړه د اسلامي امارت مشرتابه هغوی ته ډاډ ورکړی، چې د افغانستان خاوره به د هېچا پر وړاندې استعمال نه شي (R N, 2021). دا چې ازبکستان د افغانستان له اوسني حکومت سره خورا نږدې اړیکې لري، غواړي چې د ریل پټلۍ او سرک جوړولو پروژې افغانستان ته وغځوي ترڅو له دې لارې خپل سوداګریز مالونه د سیمې هېوادونو ته ورسوي(Pannier, 2022). همدې هدف ته د رسېدو په خاطر ازبکستان پخپله بهرنۍ تګلاره کې د نرم ځواک (سافټ پاور) په کار اچولو تمرکز کوي، ترڅو وکړای شي په افغانستان کې خپل مثبت انځور جوړ کړي.

په تېر کابو یوه نیم کال کې د ښه ګاونډیتوب او اقتصادي پرمختګ په هدف د دواړو هېوادونو پلاوو په لوړه کچه د یو بل هېوادونو ته سفرونه کړي. د سفرونو په دې لړ کې، د ازبکستان د بهرنیو چارو وزیر خپل لومړنی سفر کابل ته وکړ، د سفر په جریان کې یې د اسلامي امارت له لوړپوړو چارواکو سره ولیدل او د دوه اړخیزو اړیکو په بیارغولو، افغانانو ته بشري مرستو رسولو، او د انرژۍ او ټرانسپورټ اړوند پروژو په عملي کولو یې له یو بل سره خبرې اترې وکړې (Asia-Plus, 2021). همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر هم د همدغه میلادي کال په جولای میاشت کې د ازبکستان په رسمي دعوت د افغانستان په اړه د تاشکند کنفرانس کې ګډون وکړ. د سفر په جریان

کې یې د یاد هېواد له لوړپوړو چارواکو سره ولیدل او په مهمو موضوعاتو لکه د ټرانزیټ، زراعت او د ریل پټلۍ په غځولو کې د همکارۍ په اړه یې خبرې وکړې (Eqbal, 2022). په ټوله کې ویلی شو چې د ازبکستان او افغانستان اقتصادي پرمختګونه له یو بل سره تړلي دي. له همدې کبله هم د ازبکستان حکومت هڅه کوي چې اسلامي امارت د نړیوالو له لوري په رسمیت وپېژندل شي.

## د. له ترکمنستان سره اړیکې

ترکمنستان هم د افغانستان په شمال لوېدیځ کې پروت ګاونډی دی چې په دین، کلتور او تمدن کې له یو بل سره ګډ تاریخ او مشترکات لري او شاوخوا ۸۱۵ کیلو متره ګډه پوله لري (د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو مرکز، ۱۴۰۱، ٦۵).

په ۱۹۹۰ کلونو کې ترکمنستان هم د منځنۍ آسیا د نورو هېوادونو په څېر د اسلامي امارت پر وړاندې د شمال ټلوالې یو څه اندازه ملاتړ کاوه. وروسته یې بیا پر افغانستان د امریکا د یرغل ملاتړ وکړ، چې په نتیجه کې د اسلامي امارت واکمني وپرځېده (Weitz, 2021). د اسلامي امارت له بیاځلې واکمنېدو وروسته د اسلامي امارت د ریاست الوزرا د اقتصادي مرستیال ملا برادر آخند په مشرۍ یوه لوړپوړي پلاوي عشق آباد ته سفر وکړ او هلته یې د یو لړ مهمو پروژو لکه د تاپي د ګازو نللیکه او د تاپ برښنایي مزي پر تېرېدو او د افغانستان او ترکمنستان د ریل پټلۍ پروژو په اړه خبرې وکړې (Pannier, 2021). د یادولو وړ ده چې ترکمنستان د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې لومړنی هېواد و، چې د اسلامي امارت لخوا ورپېژندل شوی دیپلومات یې ومانه (Majumdar, 2022).

د اسلامي امارت له راتګ دوې میاشتې وروروسته د ترکمنستان د بهرنیو چارو د وزیر رشید میرادوف په مشرۍ یوه لوړپوړي پلاوي کابل ته دوه ورځنی سفر وکړ او پر دوه

اړخیزو اړیکو، ټاپي پروژې، ټرانزیټ، او صادراتو او وارداتو کې د همکارۍ په اړه یې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر، رئیس الوزراء، د رئیس الوزراء له اداري مرستیال عبدالسلام حنفي او یو شمېر نورو چارواکو سره ملاقاتونه او خبرې وکړې(Kadyrova, 2021). همدارنګه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي عشق آباد ته سفر وکړ، چې موخه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو پراختیا، د ټاپي، ټاپ او د ریل پټلۍ د پروژو په اړه د ترکمنستان له چارواکو سره خبرې اترې وې (Akhal-Teke, 2022). د ټاپي پروژه که څه هم د آسیا پراختیایي بانک تمویلوي (Bhutta, 2016)، خو ترکمنستان ژمنه کړې چې د دې پروژې په تمویلولو کې به له نوي افغان حکومت سره همکاري وکړي (Shaheer, 2022).

دواړه هېوادونه تر ډېره د متقابل درناوي او دوه اړخیزو ګټو پر بنسټ خپلې سیاسي او سوداګریزې اړیکې پر مخ وړي او د دواړو هېوادونو تر منځ دیپلوماتیکې اړیکې ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې دي. له هغه ځایه چې دغه هېواد بې‌طرفه بهرنۍ سیاست غوره کړی له افغانستان سره یې ښې او محتاطانه اړیکې لرلې دي.

### هـ. له ترکیې سره اړیکې

افغانستان او ترکیه د تاریخي، کلتوري، مذهبي او قومي مشترکاتو له پلوه د اړیکو رامنځته کولو او د هغو د ټینګښت د مناسبو فرصتونو، ظرفیتونو او ساحو لرونکي دي. د دواړو هېوادونو مشترکاتو ته په کتو، ترکیې تل هڅه کړې چې دغه مشترکې وجهې پیاوړې کړي او له افغانستان سره خپلې اړیکې لا ژورې کړي.

د اسلامي امارت په راتګ سره ترکیه له هغو هېوادونو څخه وه، چې له اسلامي امارت سره مثبت تعامل ته لېواله وه. د ترکیې هېواد په کوربه توب د انتالیا په دیپلوماتیک فورم کې د اسلامي امارت بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي ته د ترکیې د بهرنیو

چارو وزیر لخوا بلنه ورکړل شوه ترڅو د افغانستان د حکومت په استازولۍ خپل لیدلوری له نړۍ سره شریک کړي (R.N, 2022). په یاده غونډه کې متقي صاحب له نړۍ سره د اړیکو د رغولو او د ټولو ستونزو د هواري لپاره له دیپلوماسۍ څخه کار اخیستلو هیله مندي وښوده.

همدا راز، د ۲۰۲۲ میلادي کال په جون میاشت کې د افغانستان لپاره د ترکیې سفیر جهاد ارگینای د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست سره په کابل کې د لیدنې پر مهال وویل چې ترکیه له افغانستان سره د اړیکو پراخول غواړي (The Kabul Times, 2022). په دې لړ کې ترکیې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو په ځانگړې توگه د بشري مرستو په برخه کې پام وړ همکارۍ هم کړې دي.

د اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو وروسته، د ترکیې فعال حضور د دې سبب شو، چې دغه هېواد د افغانستان په مسائلو کې مثبت او فعال رول ولري. د دواړو هېوادونو کلتوري او تاریخي مشترکاتو ته په پام سره د افغانستان اسلامي امارت هم هڅه کوي چې له ترکیې سره اړیکې لا پیاوړې شي. همدا راز اسلامي امارت تمه لري، چې ترکیه د افغانستان د بیا رغونې او پرمختگ په برخه کې همکاري وکړي.

## II. د سیمې له لویو قدرتونو سره اړیکې

### الف. له روسیې سره اړیکې

د اسلامي امارت له راتگ وروسته، د روسیې او اسلامي امارت د چارواکو ترمنځ گڼې ناستې ترسره شوې دي. په یادو ناستو کې ځینې هوکړه‌لیکونه هم لاسلیک شوي، چې له مخې به یې دوه‌اړخیز تعاملات نور هم پرمختگ وکړي. په ۹۰مه لسیزه کې د اسلامي امارت او روسیې ترمنځ اړیکې خورا خرابې وې، چې له کبله یې یې د شمال ټلوالې په

نامه ډلې مالي او نظامي ملاتړ کاوه (Withington, 2001). د سپټمبر د یولسمې له پېښو وروسته روسیې له امریکا سره د اسلامي امارت د پرځولو په برخه کې د همکارۍ اعلان وکړ او هم یې په منځنۍ آسیا کې د امریکایي نظامي اډو جوړولو وړاندیز وکړ (O'loughlin, 2004).

د افغانستان په اړه د روسیې په پالیسۍ کې له ۲۰۱۰ میلادي کال وروسته بدلون ولیدل شو، کله چې د داعش ډلې سر راپورته کړ او هم په افغانستان کې د امریکا پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ نظامي ښکیلتیا ته د توجه کمښت راغی. په ځانګړي توګه له ۲۰۱۶ کال راوروسته د مسکو فارمټ په نامه د افغانستان لپاره د سیمې د هېوادونو د همغږۍ او سولې په اړه مشورتي ناستو پیلولو سره د روسیې او اسلامي امارت ترمنځ اړیکې پیاوړې شوې(Stepanova, 2018). روسیې په وروستیو کلونو کې ډېر ځله د بین الافغاني مذاکراتو د غونډو کوربه توب کړی دی. د افغانستان اسلامي امارت له واکمنېدو سره سم روسیې د امنیت په برخه کې په ځانګړې توګه د داعش ډلې پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه ستایلې ده (Ramani, 2021). د ماسکو فارمټ مشورتي ناسته چې د روسیې په مشرۍ د سیمې د هېوادونو په ګډون لپاره شین څراغ ښکاره کړی (The Mosscow Times, 2021)، دا ځکه په کچه د افغانستان په اړه وخت ناوخت جوړېږي اسلامي امارت ته د ګډون لپاره شین څراغ ښکاره کړی (The Mosscow Times, 2021)، دا ځکه چې روسیه لا له وړاندې ته چمتو وه، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره به اړیکې لا پراخوي (Isachenkov, 2021). کله چې اسلامي امارت پر ټول هېواد حاکم شو نو د روسیې سفارت یو له هغو سفارتونو څخه و، چې په کابل کې پرانیستی پاتې شو او دیپلوماتانو یې کابل د بل هر وخت په پرتله زیات خوندي معرفي کړ (Kozlov,2021). په دې منځ کې د افغانستان لپاره د پوتین ځانګړي استازي ضمیر کابلوف طالبان وستایل او ویې ویل چې له طالبانو سره خبرې کول د مخکیني حکومت په پرتله ډېرې اسانه

دي (Kogan, 2022). روسیه د زبرځواک هېوادونو له ډلې څخه لومړنی هېواد دی چې د اسلامي امارت لخوا ورپېژندل شوی دیپلومات یې په رسمیت وپېژانده او هم یې پر نورو هېوادونو غږ وکړ چې د افغانستان له نوي حکومت سره تعامل وکړي (RFE/RL's Russian Service, .rferl.org).

د اسلامي امارت له بیا ځلې واکمنېدو دوه میاشتې وروسته، روسیې په ماسکو کې د پاکستان، چین، او د سیمې او نړۍ ۸ هېوادونو په ګډون یو کنفرانس جوړ کړ، چې په کې د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت سرپرست وزیر په ګډون یوه لوړرتبه پلاوي چې مشري یې د رئیس الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي کوله ګډون کړی و. په یاده غونډه کې د روسیې د بهرنیو چارو وزیر په نړیوالو غږ وکړ چې په افغانستان کې د بشري ناورین مخه ونیسي او هم له نوي حکومت سره تعامل وکړي. په همدې غونډه کې د اسلامي امارت مشرانو په امریکا غږ وکړ چې د افغانستان د ۹ میلیارده ډالرو په ارزښت شتمني ازاده کړي (RFE/RL, gandhara.rferl). اسلامي امارت د خپل متوازن بهرني سیاست له کبله د روسیې او اوکراین ترمنځ جنګ کې پر دواړو لورو غږ وکړ چې له تاوتریخوالي څخه لاس واخلي او په سوله‌ییزه توګه د اختلافاتو حل راوباسي (Hindustan, 2022).

د ۲۰۲۲ کال په مارچ میاشت کې د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف کابل ته د سفر پر مهال د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت له سرپرست وزیر مولوي امیر خان متقي سره ولېدل او پر سیاسي، اقتصادي، ټرانزیټي او سیمه ییزو اړیکو یې بحثونه وکړل. د سفر په جریان کې کابلوف د اسلامي امارت پالیسي متوازنه او د سیمې په ګټه وبلله (MFA_Afghanistan, 2022). د همدغه کال په سپټمبر میاشت کې د روسیې پر سفارت د داعش ډلې لخوا یو برید وشو چې پکې د روسیې

سفارت دوه کارکوونکي او اته تنه افغانان ووژل شول. په دې اړه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر مولوي امیرخان متقي د روسیې د بهرنیو چارو له وزیر سرګي لاوروف سره تیلیفوني خبرې وکړې او د روسیې سفارت د ځانګړي امنیت نیولو په خاطر یې ډاډ ورکړ (ANI,2022).

دا چې سوداګري هم د ډیپلوماسۍ یوه برخه ده او کولی شي چې د همهوادونو ترمنځ د اړیکو واټنونه راکم کړي(Donelan, 1969) په سپټمبر میاشت کې مسکو ته د یوه پلاوي د رسمي سفر پر مهال او بیا وروسته اسلامي امارت له روسیې سره یو لړ سوداګریز قراردادونه لاسلیک کړل، چې له مخې یې په کلني ډول یو میلیون ټن پټرول، یو میلیون ټن ډیزل، نیم میلیون ټن ګاز، او دوه میلیون ټنه غنم په ټیټه بیه هېواد ته له روسیې څخه وارد کړي (Aljazeera, 2022). د اسلامي امارت لپاره یاد قرارداد یوه ډیپلوماتیکه لاسته راوړنه بلل کیږي (Chia Yi En, 2022). تر ټولو مهمه دا چې روسیې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې د اسلامي امارت خلاف په هر ډول قرارداد کې له رایې ورکولو څخه ډډه کړې ده (United Nations,2022).

## ب. له چین سره اړیکې

د افغانستان اسلامي امارت او چین تر منځ اړیکې د اسلامي امارت په تېره دوره کې هم وې. هغه مهال چین وېره لرله چې شرقي ترکستان اسلامپاله ډله به په افغانستان کې خپل پټنځایونه جوړ کړي چې چین د خپل امنیت لپاره ګواښ ګڼله (Zhou, 2022). که څه هم د امارت د تېرې دورې په لومړیو کلونو کې چین هم د هند، روسیې او امریکا په څېر د شمال ټلوالې مرسته کوله، خو په ۱۹۹۹ او ۲۰۰۰ میلادي کلونو کې د پاکستان لپاره د چین د سفیر په مشرۍ پلاوي له ملا محمد عمر مجاهد سره په کندهار کې ولیدل(Felbab-Brown, 2020). ملا محمد عمر مجاهد ورسره منلې وه چې د افغانستان

خاوره به د چين پر خلاف نه کارول کيږي او په بدل کې يې له چين څخه غوښتي وو چې اسلامي امارت به په رسميت پيژني او هم به د دوی پر وړاندې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د بنديزونو مخالفت کوي (Stone, 2019).

دا ځل چې کله چين په دې پوه شو چې امريکا نشي کولی طالبانو ته په نظامي ډګر کې ماته ورکړي نو په دې هڅه کې شو چې له طالبانو سره اړيکې جوړې کړي (Felbab-Brown, 2020). چين د طالبانو او تېرې ادارې د استازو ترمنځ په ۲۰۱۵ کال کې په لومړي ځل يوه کتنه تنظيم کړه (Wong, E, 2015). همدارنګه په ۲۰۱۸ ميلادي کال کې د شير محمد عباس ستانکزي په مشرۍ او په ۲۰۱۹ ميلادي کې د ملا برادر په مشرۍ پلاوو بيجنګ ته سفرونه وکړل، ترڅو چين ته د امنيت په اړه ډاډ ورکړي او هم يې سياسي ملاتړ تر لاسه کړي (Mitra, 2021).

اسلامي امارت په تېر کابو يوه نيم کال کې له چين سره ښې او پر دوه اړخيز درناوي ولاړې اړيکې لرلې دي. د مخکيني حکومت د سقوط او د امريکايانو له وتلو سره سم د چين د بهرنيو چارو وزارت وياندې وويل چې د طالبانو بيا ځلې راتګ د افغانستان د ملي موافقې د ارزونې په پايله کې منځ ته راغلی (Tiezzi, 2021). هغې وړاندې هم ويلي وو چې چين چمتو دی له افغانستان سره د ښه ګاونډيتوب او همکارۍ پر بنياد اړيکو ته پراختيا ورکړي (Chinese Ministry, 2021) په همدې بنسټ چين په کراتو د اسلامي امارت د هغې غوښتنې چې امريکا دې د افغانستان ملي شتمني ازاده کړي په کلکه ملاتړ کړی او هم‌مهاله يې امريکا ته د ملامتۍ ګوته نيولې ده (Business Standard, 2021).

د چين يوه تر ټولو اساسي وېره امنيتي ګواښونه دي. په دې اړه د ملا برادر په مشرۍ د اسلامي امارت يوه لوړرتبه پلاوي د کابل له فتحې مخکې بيجنګ ته سفر درلود او د چين

د بهرنيو چارو وزير ته يې د امنيت په اړه وويل چې افغان خاوره به د هيڅ هېواد پرضد ونه کارول شي (Findlay, 2021).

د چين د بهرنيو چارو وزير وانگ يي هم کابل ته په خپل لومړني رسمي سفر کې د افغانستان له نوي حکومت سره د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه چې افغانستان او چين دوه هغه گاونډيان دي چې له يو بل سره تاريخي اړيکې لري. همدارنگه نوموړي وويل چې چين د افغانستان استقلال، حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او د افغانستان ديني او ملي ارزښتونو ته درناوی کوي (Chinese Ministry, 2022). د همدغه سفر پر مهال نوموړي د امنيتي مسائلو په اړه هم انديښنې شريکې کړې چې د رئيس الوزراء د اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر او د بهرنيو چارو سرپرست وزير مولوي امير خان متقي لخوا د بيجنگ هر ډول امنيتي انديښنو ته ډاډ ورکړل شو او زياته يې کړه چې د افغانستان له خاورې به هيڅ هېواد ته امنيتي ضرر ونه رسيږي (The Print, 2022). له بلې خوا د دواړو هېوادونو تر منځ صادرات او واردات په عادي ډول ترسره کيږي. د افغانستان لخوا وچه ميوه او قيمتي تيږې د هوايي دهليزونو له لارې د چين بازارونو ته رسول کيږي(Pantucci, 2022). چين همدا راز د شانگهای همکاريو سازمان د غونډې په څنډه کې د اسلامي امارت د بهرنيو چارو له سرپرست وزير سره د ملاقات پر مهال له افغانستان څخه پر صادراتو ماليه صفر سلنه د راتيتولو اعلان وکړ (Xinhua Net, 2022). همدارنگه د سيمه ييز اتصال په برخه کې چين او پاکستان غواړي چې افغانستان د سي پيک (چين-پاکستان اقتصادي دهليز) پروژه کې له ځان سره وصل کړي (Business Standard, 2022). په ورته وخت کې اسلامي امارت هم ليواليتا ښودلې چې د يادې پروژې سره وصل شي (ANI News, 2021). همدا راز اسلامي امارت له چين څخه غوښتي چې د افغانستان د کانونو په استخراج کې پانگونه وکړي (Lee Myers, 2021).

د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره چین له افغانستان سره د اړیکو د پراختیا په موخه د اقتصادي او بشري مرستو لپاره ښاغلی وانګ د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي په توګه وټاکه او همدا راز یې د افغانستان د تحولاتو اړوند غونډې هم جوړې کړې، چې د افغانستان د ګاونډیو هېوادونو په نامه بلل کیږي.

### ج. له هند سره اړیکې

هند یو له هغو هېوادونو څخه و چې تل یې د اسلامي امارت په اړه بېلابېل تشویشونه لرلي (Aryal, 2021). د اسلامي امارت په لومړي دور کې هند د هغو هېوادونو په سر کې و چې د اسلامي امارت له مخالفینو په ځانګړي توګه د شمال ټلوالې مالي او نظامي ملاتړ یې کاوه (Chaudhuri, 2020). د امریکایانو له راتګ او د کرزي له حکومت څخه یې پراخ ملاتړ وکړ (Ganguly, 2011). همدارنګه د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرو پر پیل کېدو هم راضي نه و (Mohan, 2021). د هند حاکم حکومت په کور دننه هم یو لړ ننګونې لرلې چې پر اساس یې نه غوښتل له طالبانو سره مخامخ خبرې وکړي، ځکه د دوی په ګومان طالبان یوه باغي ډله وه او د هند کورنۍ تګلاره دا ده چې له هیڅ باغي ډلې سره که په کور دننه یا بهر وي خبرې ونه کړي. دې چارې د هند حاکم حکومت له داخلي سیاسي مخالفتونو سره مخ کاوه (Taneja, 2017).

د کابل له فتحې وړاندې هند منلې وه چې له طالبانو سره یې د پردې تر شا او له رسنیو څخه پټې خبرې پیل کړې دي. ترې مخکې دوی فکر کاوه چې له طالبانو سره په اړیکه کې پاتې کېدل به د کابل حکومت او یا نړیوال ملاتړ کوونکي هېوادونه خفه کړي او هم دا چې ګواکې طالبان د پاکستان ګټو ته کار کوي (Basit, 2021). له یادو اندېښنو سره سره د مودي حکومت په دې سلا شو چې په دوحه کې له طالبانو سره ښکاره خبرې پیل

کړي(Basu, 2021). د هند او اسلامي امارت د پلاوو تر منځ لومړنۍ لېدنه د قطر په دوحه کې هغه وخت وشوه، چې کله له افغانستان څخه وروستی امریکایي عسکر ووت. په دې لېدنه کې د اسلامي امارت لخوا شیر محمد عباس ستانکزي او د هند لخوا د قطر هېواد لپاره خاص استازی دیپک میتل سره د هند په سفارت کې وکتل او لیدنه تر ډېره پر امنیتي مسائلو او هند ته د هندي اتباعو په خوندي تگ باندې راڅرخېده (Shubhat, 2021). په یاده لیدنه کې د اسلامي امارت مشرانو هندي لوري ته وړاندیز وکړ چې که چیرې هند خپل سفارت پرېږدي نو اسلامي امارت د هندي دیپلوماتانو امنیت او خوندي ساتلو ضمانت ورکوي (Frayer, 2021)، خو د هند حکومت د دیوي شکتي (زورور خدای) تر نوم لاندې عملیاتو کې خپل ټول دیپلوماتان او ځینې افغان اتباع وایستل (PTI, 2021). د بهرنیو چارو وزارت سیاسي معین شیرمحمد عباس ستانکزي په یوه مرکه کې وویل چې هند د سیمې لپاره یو تر ټولو مهم هېواد دی او موږ له هند سره نورماله سوداگري، اقتصادي او سیاسي اړیکې غواړو (Outlook Web Bureau, 2021). د هند تشویشونو او اندېښنو ته د ځواب ویلو لپاره وخت په وخت د اسلامي امارت مشرانو څرگندونې کړې او هغوی یې د متقابل احترام پر بنسټ د اړیکو پر لور هڅولي. د هند دې تشویش ته چې گویا په افغانستان کې د اسلامي امارت بیاځلې حکومت به په کشمیر کې یو ځل بیا نارامي زیاته کړي (Shaffer: 2016)، د اسلامي امارت لوړپوړي غړي انس حقاني له سي این این-۱۸ خبري تلویزیون سره په مرکه وویل چې اسلامي امارت د کشمیر د قضیې په گډون په هېڅ هېواد کې لاسوهنه نه کوي او هم له هند سره سالمې اړیکې غواړي (Gupta, 2021). همدارنگه د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد له ای آر وای خبري تلویزیون سره په یوه مرکه کې وویل چې هند او پاکستان باید د کشمیر مسئله په خپل منځ کې حل کړي، او زیاته یې کړه چې د افغانستان خاوره به د هېچا پرضد استعمال نه شي (DH, 2021).

سهیل شاهین چې د ا.ا.ا. له لوري په ملګرو ملتونو کې د افغانستان د استازي په توګه معرفي شوی، له بي بي سي سره د هند په اړه وویل چې اسلامي امارت هېڅ داسې تګلاره نه لري چې له مخې یې دې د هند په شمول د نورو هېوادونو پرضد فعالیت وکړي. شاهین همدا راز د ۱۹۹۹ کال د تښتول شوې هندۍ مسافر وړونکې الوتکې په اړه هم شته ادعا رد کړه او ویې ویل چې هند باید له موږ څخه منته وکړي ځکه د هند په غوښتنه مو هغې الوتکې ته په کندهار کې د ناستې اجازه ورکړه او د هغې د ازادولو په برخه کې مو ورته اسانتیاوې برابرې کړې (Khare, 2021).

د لوی اختر د مبارکۍ پیغام کې امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده وویل چې د افغانستان اسلامي امارت به هېڅوک پرې نږدي چې زموږ خاوره د نورو هېوادونو پر خلاف وکاروي، همدارنګه له نورو هېوادنو څخه هم غواړو چې زموږ په داخلي چارو کې لاسوهنه ونه کړي (The Economic, 2021). همدارنګه د دفاع وزیر ملا محمد یعقوب مجاهد هم له یوه هندي خبري تلویزیون سره په مرکه کې د هند لخوا د بشري مرستو منته وکړه او زیاته یې کړه چې اسلامي امارت له هند سره د اړیکو بیا راژوندي کول غواړي. او هم یې هند ته د خپل سفارت بیا پرانیستلو او خپل سفیر راپېژندلو غوښتنه وکړه او زیاته یې کړه چې اسلامي امارت دوی ته د امنیت پوره ډاډ ورکوي (Gupta, 2021).

د لومړي ځل لپاره د ۲۰۲۲ میلادی کال جون میاشت کې د هند د بهرنیو چارو وزارت ګډ منشي (Joint Secretary) جي پي سنګ په مشرۍ یوه پلاوي کابل ته سفر وکړ، ترڅو د دوه اړخیزو اړیکو او بشري مرستو په اړه له افغان لوري سره خبرې وکړي (Aljazeera, 2022). له همدغه سفر وروسته هند په کابل کې خپل سفارت د یو شمېر دیپلوماتانو او تخنیکي ټیم په ګډون له ۱۰ میاشتو بندولو وروسته بېرته پرانیست. په دې اړه د هند د بهرنیو

چارو وزارت ویاند وویل چې د سفارت پرانیستلو هدف افغانستان ته د بشري مرستو په لېږدولو کې همغږي او څارنه ده (Basu, 2022). د ۲۰۲۲ز کال په ډسمبر په میاشت کې د هند-منځنۍ آسیا د ملي امنیت سلاکارانو ترمنځ په هند کې د افغانستان په اړه ناسته وشوه چې د تېر په پرتله یې ګډه اعلامیه خورا نرمه وه او د افغانستان پر ثبات او په کورنیو چارو کې پر نه لاسوهنې پکې ټینګار شوی و، کوم څه چې د اسلامي امارت هرکلی له ځان سره درلود (Sibal, 2022).

د همدغو هڅو په پایله کې د افغانستان اسلامي امارت وتوانېد چې د متوازن سیاست تګلارې په خپلولو سره هند په دې قانع کړي، چې په کابل کې خپل ډیپلوماتیک حضور او خپل فعالیتونه لکه بشري مرستې او د خپلو پروژو څارنه بیا پیل کړي او تر ډېره بریده د هند تشویشونو ته ځواب ووایي.

**پایله**

د افغانستان اسلامي امارت دویم ځل واکمنۍ کې د تېر امارت په پرتله بهرنۍ سیاست متوازن او بهرنۍ اړیکې پراخې دي. د سیمې او نړۍ هېوادونو ته یې د متقابل درناوي پر بنیاد د ښو اړخیزو اړیکو رغولو روښانه پیغام ورکړی. د اړیکو په ټولو برخو کې یې د متوازن بهرني سیاست تګلاره خپله کړې، هغه هېوادونه چې پخوا یې ورسره اړیکې د دښمنۍ او د ټکر پر بنیاد ولاړې وې، اوس یې ورته غیره د ملي ګټو پر بنیاد پرانیستې ده. روسیه، هند، او ایران هغه هېوادونه وو چې د تیر امارت په دوران کې یې په عملي توګه د اسلامي امارت د مخالفینو په ښکاره مالي او نظامي ملاتړ کاوه، چې اوس الحمدالله یادو ټولو هېوادونو نه یوازې له مخالفت څخه لاس اخیستی، بلکې په هره برخه کې یې تعامل لا پراخ کړی.

نړیوالو اصولو ته د درناوي په رڼا کې اسلامي امارت خپلو گاونډیو، سیمه ییزو او د نړۍ هېوادونو ته د اړیکو د یوه نوي فصل د پرانیستلو بلنه ورکړې. اسلامي امارت د نورو په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې او ځمکنۍ بشپړتیا د درناوي اصولو ته ژمن دی. اسلامي امارت د امریکا په گډون له ټولو غربي هېوادونو سره د تعامل او اړیکو د بیا پیل په تړاو هغوی ته د امنیت له اړخه هر ډول ډاډ ورکړی. هغه اندېښنې چې امریکا او غربي هېوادونه یې د امنیت او نورو جنگي ډلو د شتون په اړه لري، د سیمې او گاونډي هېوادونه یې هم لري. اسلامي امارت د سیمې او نړۍ ټولو هېوادونو ته د هغوی د هر ډول اندېښنو د رفع کېدو په خاطر خبرو او عملي گامونو پورته کولو ته چمتووالی ښودلی او ډاډ یې ورکړی.

